# نړیوال بانک

اړیکی: په کابل کی: عبدالرؤف ضیا 009370280800
بریښنا لیک : azia@worldbank.org
په واشنګتن کی: کرینا منحسي 1729-473 (202)
بریښګنا لیک: kmanasseh@worldbank.org

خبری خپرونه نمبر:2005/SAR

## نړیوال بانک د افغانستان لپاره وړیا مرسته برابره کړه

واشنګتن،د مې د میاشتې ۱۹ مه نیټه، ۲۰۰۵ ام کال- نن نړیوال بانک د افغانستان لپاره د ۸۵ میلیون دالرو وړیا مرسته تصویب کړه ، چې د هغه له جملې څخه ۴۰ میلیون دالره به د لوړو زده کړو د تمویل لپاره، او ۴۵ میلیون دالره به دهیواد د اقتصاد د پیاوړي کولو او د بیارغونو چارې لکه د سړکونو اصلاحات او هوایي ډګر، مارکیټونو او ټولنیز خدمتونو ته لاس رسیدنه او ټولنیزو خدمتونو ته تخصیص ورکړل شوی. د وړیا مرستو مهمه برخه د هیواد د بنسټیزه جوړښتونو د اړتیاو په پوره کولو کې چې د ۲۰ کلنې جګړې له امله رامنځ ته شوي په مصرف رسیږي.

په تیر دریو کالو کې، د افغانستان حکومت هڅه وکړه ترڅو د لوړو زده کړو سکتور د لمړنیو او منځنیو زده کړو سره یوځای بیا ورغوي. د د غو زیارونو په لړ کې د لوړو زده کړو اتلس موسسې بیا فعاله شوې چې د ۲۰۰۱ام کال نه تر ۲۰۰۴ کال د مني پورې د شمولیت اندازه د۴۰۰۰ محصلینو څخه تر۳۷۰۰۰ تنو پورې ورسیده. په لمړنیو زده کړو کې په لمړي او دوم کال کې د شمولیت په اندازه کې۳٫۱۲ برخه زیاتوالی راغلی. په هیواد کې د ښوونځیو د فارغینو او د پاکستان او نورو‌هیوادونو څخه د زده کوونکو د راستنیدو سره یو ځای، د لوړو زده کړو په اړوند غوښتنه زیاته شوه. د غه غوښتنه نه یوازې د شمولیت په برخه کې ده بلکه د زده کړې پروګرامونه او د تدریس کیفیت هم په دغې غوښتنه کې شاملیږي.

د لوړو زده کړو د پروګرام د پیاوړي کولو هدف دا دی تر څو د افغانستان د پوهنتونو اجرااتی عملیات بیا ورغول شي او مؤسساتي بنسټ د هغی اجندا د پرمختیا لپاره برابر کړ ي چې د منځنیو زده کړو په پرمختیا ، د کاري ظرفیتونو په وده او ریفورمونو باندې تمرکز کوي. په لمړي پړاو کې نوموړی پروګرام په اوږد مهاله شرایطوکې د افغانستان د لوړو زده کړو پرمختیا په نظر کې لري. برسیره پردې، د غه پروګرام د اوږد مهاله پرمختیایي چوکاټ په ترڅ کې د افغانستان د منځنیو زده کړو د سکتور لپاره د بیلابیلو منابعو په جذبولو کې به د کتلست دنده ترسره کړي . همدارنګه، دغه پروګرام د کابل پولیتخنیک، د کابل پوهنتون او د څلورو سیمه ایزو پوهنتونو (بلخ، هرات، کندهارو

ننګرهار) لپاره د نوي بهرنيو پوهنتونونو د جوړښت سره سم د مشارکت موافقتنامې آسانه او تمويلوي .

ميرمن کيکو ميوه، په نړيوال بانک کې د ښوونې او روزنې متخصص وويل: *"د لوړو زده کړو بياروغونه د افغانستان د اړتياو د پوره کولو لپاره يو غوڅ اهميت لري، په ځانګړې توګه، په دې وروستيو ورځو کې چې مسلکی استادانو او د هيواد په اقتصادی سکتور کې پياوړی لارښوونې ته سخته اړتيا شته. مونږ طمع لرو چې دغه پروګرام به د لوړو زده کړو کيفيت ته ښه والی ورکړي ترڅو د افغانستان د پوهنتونو څخه داسې باکفايته او مسلکی محصلان فارغ شي چی وکړای شي د بياروغونې، پرمختګ او د هيواد د بيوزلی د کمولو اړتياوې پوره کړي."*

د دوو لسيزو جګړو له امله چې په هغه کې د عامه شتمنيو څخه ساتنه او څارنه نه ده شوې په افغانستان کې د سړکوونو د ښبکې يوه لويه برخه ويجاړه شوې ده. په دې مفهوم چې د سړکونو د شبکې يوه برخه قابل د استفادې ده چې د دغې ستونزې له امله د ترانسپورت مصرف زيات شوی دی. په اوس مهال کې د هيواد په سلوکې ۵۰ سړکونه ناسم شرايط لري.

د ترانسپورت د بياروغونې بيړنۍ پروژه چې د نړيوال بانک د ۱۰۸ ميليون دالرو کريدت له خوا تمويلږي د کال ۲۰۰۳ د مارچ په مياشت کې تصويب شوه، د دغې پروژه هدف د افغانستان د سړکونو او دهوايي ډګر د بنسټيزه جوړښتونو بيارغول دي. د دغې پروژې په لړ کې به د افغانستان حکومت د کابل – دوشي، پلخمری – کندز- شيرخان بندر د لوې لارې بيارغونه تمويل کړي، د يادونې وړ ده چی په دغه لړ کې دا لاندې کارونه ترسره شوي دي: لکه د سالنګ د تونل کار، د کابل نړيوال هوايی ډګر بياروغونه چې په دې کې د رن وې بياودانول، د هوايي ډګر د ترافيکی چراغونو د هوايې ډګر د عملياتی تجهيزاتو ترميم، او د ثانوي سړکونو بيا رغونه شامله ده.

نن چی د ۴۵ ميليون دالرو مرسته د ترانسپورت د بياروغونې بيړنۍ پروژه لپاره تصويب شوه د کندز- تالقان- کشم سړک او نورو کامپننتونو د بيارغونې د پروژې په بودجه کې زياتوالی راغی ترڅو نومورې پروژه په سمه توګه بشپړه شي. داسې طمعه کيږي چې نومورې پروژه په د۲۰۰۷ ام کال د جون په مياشت کې د فوايدعامې وزارت او د ترانسپورت د وزارت له خوا بشپړه شي.

ښاغلي الستيرجی. مککينی، د افغانستان لپاره د نړيوال بانک دايرکتر وويل: *"د افغانستان غوندی هيواد ته چې په وچه کې پروت دی، لوی لارې د ترانسپورتی خنډونو د لرې کولو لپاره او د دغو چارو د آسانه کولو لپاره غوڅ اهميت لري لکه: سيمه ايزه سوداګري، د بشري مرستو سپارل، د بياروغونې*

*او پرمختیا په برخه کې د ټولو سکتورونو فعالیتونو او داسې نور. د حکومت پراخ بنسټه پلانونه چې په دې وروستیو کې د افغانستان په پرمختیايي کنګره کې وړاندې شول د دې حقیقت څرګندوی دی چې د هیواد پرمختګ په پراخه پیمانه د سیمې په اقتصاد پورې اړه لري.*

د ETRP ټول ارزښت د IDA د ۴۵ میلیون دالرو د وړیا مرستې سره (د IDA اصلي کریدت، ۱۰۸ میلیونه امریکایې دالره) چې نن تصویب شوه ۱۴۷ میلیونه امریکایی دالرو پورې رسیږي.

په افغانستان کې د نړیوال بانک د فعالیتونو په هکله د لازیاتو معلوماتو لپاره د دې لاندې پتې سره تماس ونیسئ
[http://www.worldbank.org/af](http://www.worldbank.org/af)

د لوړو زده کړو د پیاوړي کولو د پروګرام په هکله د لاژیاتو معلوماتو لپاره د دې لاندې پتې سره تماس ونیسئ
[http://www-wds.worldbank.org/servlet/WDS_IBank_Servlet?pcont=details&eid=000104615_20050308090301](http://www-wds.worldbank.org/servlet/WDS_IBank_Servlet?pcont=details&eid=000104615_20050308090301)
د ترانسپورت د بیاروغونې د بیړنۍ پروژې د وړیا مرستې په هکله د لاژیاتو معلوماتو لپاره د دې لاندې پتې سره تماس ونیسئ
[http://www-wds.worldbank.org/servlet/WDS_IBank_Servlet?pcont=details&eid=000104615_20041123122426](http://www-wds.worldbank.org/servlet/WDS_IBank_Servlet?pcont=details&eid=000104615_20041123122426)